# الوصيّة

حضرت مرزا غلام احمد قادیانی ؑ
مسیح موعود او مهدی معهود

# الوصیّت

تصنيف؛
حضرت مرزا غلام احمد قادياني
مسيح موعود او مهدي معهود عليه السلام

# الوصّیت

تصنیف  حضرت مرزا غلام احمد قادیانی
مسیح موعود مہدی معہود علیه السلام

# Al-Wasiyyat

Written by Hazrat Mirza Ghulam Ahmad of Qadian,
The Promised Messiah and Mahdi (1835-1908), peace be upon him,
Founder of the Ahmadiyya Muslim Community

First published in Urdu in Amritsar, India, 1905
First Pashtu translation published online, 2026

© Islam International Publications Ltd.

Published by:
Islam International Publications Ltd
Unit 3, Bourne Mill Business Park,
Guildford Road, Farnham, Surrey UK, GU9 9PS

For further information, please visit
www.alislam.org

د کتاب نوم: الوصیّت

مصنف: حضرت مرزا غلام احمد قادیانی مسیح موعود مهدی معهود علیه السلام

ژباړوونکی: سید نعمت الله طائر مربي سلسله

کمپیوترایز او ډیزاین: غیوراحمد احمدیار نائب صدر جماعت احمدیه افغانستان ـ ۲۰۱۸

بیا کتنه (نظر ثاني): رسول محمد خواجه، سابق صدر جماعت احمدیه افغانستان، او غیوراحمد احمدیار ـ ۲۰۲۶

## پېش لفظ (سریزه)

حضرت اقدس مسیح موعود او مهدي معهود (علیه السلام) د ۱۹۰۵ کال په دسمبر کې د "الوصیت" رساله تصنیف کړه، چې په هغې کې یې د الله تعالی له لوري د الهام په ترلاسه کولو سره خپلې ډلې (جماعت) ته د خپلې مړینې په اړه ډاډ ورکړی و چې دا د الله تعالی له پخواني سنت څخه ده چې هغه دوه قدرتونه ښکاره کوي. لومړی قدرت د نبي وجود وي او د نبي له مړینې وروسته د دویم قدرت (قدرت ثانیه) ظهور کېږي. ګویا حضور (علیه السلام) چې چېرته د خپلې مړینې خبر ورکړی و، هلته یې ورسره سم د خلافت د یوې تلپاتې لړۍ د جاري کېدو زیری هم ورکړی و. په دې رساله کې حضرت مسیح موعود (علیه السلام) د الهي غوښتنې لاندې د اسلام د اشاعت او د قرآن د حکمونو د تبلیغ د مقاصدو لپاره د "نظامِ وصیت" د قیام اعلان هم وکړ. موږ ټولو د ډلې (جماعت) غړو ته پکار دي چې دا لنډه رساله په غور سره مطالعه کړو او د خلافت د ستر نعمت په ترلاسه کولو باندې د الله تعالی شکر ادا کړو او خپلې ژمنې او امانتونه په سمه توګه ادا کړو. دا کتاب له نوې ټایپ سېټینګ سره چمتو شوی دی. هیله ده چې ملګري به ترې ګټه پورته کړي.

منیر الدین شمس

ایډیشنل وکیل التصنیف

فروري ۲۰۱۸

لومړي وار عنوان

**د الله وحي**

نړۍ ته يو ويرووونکی راغی، خو نړۍ هغه قبول نه کړ، مګر خدای به هغه قبول کړي
او په خورا زورورو حملو سره به يې رښتينولي ښکاره کړي.

دا رساله

چې نوم يې دی

# الوصیّت

سپيڅلې ويناوې

حضرت حجت الله مسيح موعود او مهدي معهود

مرزا غلام احمد عليه الصلوة و السلام

قادياني

د چوهدري الله داد په اهتمام، په ميګزين پريس کې د حضرت اقدس په فرمايش

د ۱۹۰۵ز کال د ډسمبر په ۲۴مه نېټه چاپ شو.

بسم الله الرحمن الرحیم
نَحْمَدُهُ وَنُصَلِّيْ عَلَی رَسُوْلِهِ الْکَرِيْمِ ؁

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی رَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ ۔ ۔اما بعد! څرنګه چې عزوجل خدای ماته په پرله پسې وحې سره خبر راکړی دی چې زما د مړينې وخت نږدې دی، او په دې اړه د هغه وحي په دومره تسلسل سره وشوه چې زما هستي يې له بنسټه ولړزوله او دا ژوند يې پر ما تريخ کړ؛ له همدې امله ما مناسبه وګڼله چې خپلو دوستانو او هغو ټولو خلکو لپاره چې وغواړي زما له کلام څخه ګټه پورته کړي، څو نصيحتونه وليکم. نو لومړئ د هغې سپېڅلې وحې خبر ورکوم چې زما د مړينې د خبر په ورکولو سره يې زما لپاره دا خوځښت پيدا کړ؛ او هغه وحې دا ده چې په عربي ژبه کې شوې وه او وروسته به يې د اردو وحې هم وليکل شي:
قَرُبَ اَجَلُکَ الْمُقَدَّرُ وَلَا نُبْقِيْ لَکَ مِنَ الْمُخْزِيَاتِ ذِکْرًا۔ قَلَّ مِيْعَادُ رَبِّکَ وَلَا نُبْقِيْ لَکَ مِنَ الْمُخْزِيَاتِ شَيْئًا ۔ وَاِمَّا نُرِيَنَّکَ بَعْضَ الَّذِيْ نَعِدُهُمْ اَوْ نَتَوَفَّيَنَّکَ ۔ تَمُوْتُ وَ اَنَا رَاضٍ مِّنْکَ ۔ جَاءَ وَقْتُکَ وَنُبْقِيْ لَکَ الْاٰيَاتِ بَاهِرَاتٍ ۔ جَاءَ وَقْتُکَ وَنُبْقِيْ لکَ الْاٰيَاتِ بَيِّنَاتٍ ۔ قَرُبَ مَا تُوْعَدُوْنَ ۔ وَ اَمَّا بِنِعْمَةِ رَبِّکَ فَحَدِّثْ ۔ اِنَّهٗ مَنْ يَّتَّقِ اللهَ وَيَصْبِرْ فَاِنَّ اللهَ لَا يُضِيْعُ اَجْرَ الْمُحْسِنِيْنَ۔ (ترجمه) ستا اجل رانژدې شوی دی، او موږ به ستا په اړه د داسې خبرو نوم او نښان پرې نهږدو د کومو ذکر چې ستا د رسوايۍ لامل شي . ستا اړوند ستا د رب ټاکلی وخت لږ پاتې دی، او موږ به ټول هغه اعتراضونه ليرې او له منځه يوسو او هيڅ به له هغو څخه باقي پرې نه ږدو د کومو له يادونې څخه چې موخه ستا سپکا وی وي. او موږ پدې خبره باندې قادر يو چې د مخالفينو په هکله چې کومې زموږ وړاند وينې دي د هغوی څخه څه يې تاته ښکاره کړو يا تا ته وفات درکړو. ته به په داسې حال کې وفات بيامومې، چې زه به ستا څخه راضي وم او موږ به ښکاره ښکاره نښانونه ستا د تصديق لپاره موجود وساتو کومه وعده چې شوې هغه نږدې ده. د خپل رب نعمت چې پر تا باندې شوی د خلکو پر وړاندې

بیان کړه. کوم کس چې تقویٰ اختیار کړي او صبر وکړي نو خدای د داسې نیکي کوونکو اجر نه ضایع کوي.

په دې ځای کې باید په یاد ولرئ چې د الله تعالی دا فرمایل: «موږ به ستا په اړه داسې کوم ذکر پاتې نه کړو چې ستا د رسوایۍ او سپکاوي سبب شي»، د دغې فقرې دوه ماناوې دي: لومړی دا چې هغه نیوکې چې د سپکاوي په نیت خپرېږي، موږ به یې له منځه یوسو او د هغو نیوکو نوم او نښان به پاتې نه شي. دویم دا چې هغه شکایت کوونکي چې له خپلو شرارتونو لاس نه اخلي او له بدګویۍ څخه نه منع کېږي، موږ به هغوی له نړۍ څخه پورته کړو او د هستۍ له پاڼې به یې ورک کړو؛ نو په طبعي ډول به د هغوی له منځه تلو سره د هغوی چټې او بې ځایه اعتراضونه هم له منځه لاړ شي. بیا له دې وروسته الله تعالی زما د مړینې په اړه په اردو ژبه کې په لاندېنیو کلمو سره زه مخاطب کړم او ویې فرمایل:

« ډېرې لږې ورځې پاتې دي، په هغه ورځ به پر ټولو خپګان خپور شي. دا به وشي، دا به وشي، دا به وشي. له هغې وروسته به ستا پېښه وي؛ د ټولو حوادثو او د قدرت د عجایبو له ښودلو وروسته به ستاسو پېښه راشي.»

د پېښو په اړه کوم علم چې ما ته راکړل شوی دی هغه همدا دی چې په نړۍ کې به هره خوا مرګ خپله لمن وغوړوي او زلزلې به راشي او په شدت سره به راشي او د قیامت نمونه به وي او ځمکه به لاندې باندې کړي او د ډېرو ژوند به تریخ شي.

بیا هغه څوک چې توبه وباسي او له ګناهونو لاس واخلي، خدای به پر هغوی رحم وکړي. لکه څنګه چې هر نبي د دې زمانې خبر ورکړی و، اړینه ده چې هغه هرڅه پېښ شي؛ مګر هغه کسان چې خپل زړونه سم کړي او هغه لارې غوره کړي چې خدای ته خوښې دي، هغوی ته نه څه وېره شته او نه کوم خپګان. خدای ماته په خطاب کې وفرمایل چې ته زما له لوري نذیر (وېروونکی) یې، ما ته ولېږلې ترڅو مجرمین له نېکانو جلا کړل شي؛ او ویې فرمایل چې نړۍ ته یو نذیر راغی مګر نړۍ هغه قبول نه کړ، مګر خدای به هغه قبول کړي او په ډېرو زورورو

بریدونو سره به د هغه رښتینولي څرګنده کړي. زه به تا ته هغومره برکت درکړم * چې پاچاهان به ستا له جامو څخه برکت لټوي.

*که د نړۍ سترګې پرانیستل شوې وای، نو دوی به لیدلي وای چې زه د پېړۍ په سر کې ښکاره شوم. اوس د څوارلسمې پېړۍ نږدې څلورمه برخه هم تېره شوه او د احادیثو مطابق، کټ مټ زما د دعوې پر مهال د روژې په میاشت کې د سپوږمۍ تندر نیونه او لمر تندر نیونه هم وشوه؛ همدارنګه په هېواد کې طاعون هم خپور شو او زلزلې هم راغلې او بیا به هم راشي، خو افسوس پر هغو کسانو چې له نړۍ سره یې مینه وکړه او زه یې قبول نه کړم."

او د راتلونکې زلزلې په اړه چې یوه سخته زلزله به وي ماته خبر راکړل شو ..... او ویې فرمایل: بیا پسرلی راغی، د خدای خبره بیا پوره شوه".
له همدې امله د یوې شدیدې زلزلې راتګ اړین دی. مګر رښتیني له هغې څخه په امان کې دي. نو رښتیني شئ! او تقویٰ غوره کړئ! ترڅو وژغورل شئ. نن له خدای څخه ووېرېږئ ترڅو د هغې ورځې له وېرې په امان کې اوسئ. اړینه ده چې اسمان څه وښیي او ځمکه څه ښکاره کړي. مګر له خدای څخه وېرېدونکي به وژغورل شي.
د خدای کلام ماته فرمایي چې ډېرې پیښې به ښکاره شي او ګڼ شمیر آفتونه به پر ځمکه را کښته شي؛ له هغو څخه به ځینې زما په ژوند کې رامنځته شي او ځینې نور به زما وروسته ښکاره شي.او هغه به دغې لړۍ ته بشپړه وده او ترقۍ ورکړي؛ ځینې زما په لاس او ځینې زما وروسته.

دا د خدای تعالی سنت دی او له هغې ورځې چې ده (ج) انسان پر ځمکه پیدا کړ، تل یې دا سنت څرګند کړی چې هغه د خپلو نبیانو او رسولانو مرسته کوي او هغوی ته غلبه ورکوي؛ لکه څنګه چې فرمایي: كَتَبَ اللَّهُ لَأَغْلِبَنَّ أَنَا وَرُسُلِي (المجادله ۲۲) (ژباړه: الله پریکړه کړې چې خامخا به زه او زما رسولان برلاسي کیږو). له برلاسي څخه مراد دا دی، لکه څنګه چې د رسولانو او نبیانو دا موخه وي چې پر ځمکه د خدای حجت بشپړ شي او هیڅوک یې مقابله ونکړای شي، همداسې خدای تعالی په قوي نښو سره د هغوی رښتونولي څرګندوي. کومه رښتینولي چې هغوی په نړۍ کې خپرول غواړي، د هغې د تخم شیندلو چارې د هغوی په خپل لاس

ترسره کوي، مګر د هغې بشپړ تکمیل د هغوی په لاس نه کوي؛ بلکې په داسې وخت کې هغوی ته وفات ورکوي چې په ښکاره د ناکامۍ له یوې وېرې سره مل وي او مخالفینو ته د خندا، ملنډو، پیغور او رټلو موقع په لاس ورکوي. خو کله چې هغوی خپلې ملنډې او خنداګانې پای ته ورسوي، نو بیا (خدای) خپل د قدرت دویم لاس ښکاره کوي او داسې اسباب رامنځته کوي چې په وسیله یې هغه موخې چې تر یوې کچې نیمګړې پاتې وې، خپل کمال ته رسېږي. لنډه دا چې خدای تعالی دوه ډوله قدرت څرګندوي: لومړی: په خپله د نبیانو په لاس د خپل قدرت لاس ښیي. دویم: په داسې وخت کې چې د نبي له وفات وروسته له ستونزو سره مخامخ کېدل رامنځته شي، دښمنان زور واخلي او داسې انګیري چې اوس کار خراب شو او پدې یقین وکړي چې دا ډله (جماعت) به اوس له منځه لاړه شي؛ ان تر دې چې په خپله د جماعت خلک هم په شکونو کې پرېوځي، ملاوې یې ماتې شي او ځینې بدبخته بیا د ارتداد (له دینه د اوښتلو) لارې غوره کړي. په داسې وخت کې خدای تعالی دویم ځل خپل زبرځواک قدرت ښکاره کوي او دغه لوېدونکی جماعت بېرته سنبالوي. نو هغه څوک چې تر پایه صبر وکړي، د خدای تعالی دغه معجزه ویني. لکه څنګه چې د حضرت ابوبکر صدیق (رض) په وخت کې وشول؛ کله چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم مړینه یوه بې وخته مړینه وګڼل شوه، ډېر نادانه بېدیا مېشته (کوچیان) مرتد شول او صحابه کرام (رض) هم له ډېر غمه د لېونیانو په څېر شول. په هغه وخت کې خدای تعالی حضرت ابوبکر صدیق (رض) راپورته کړ، یو ځل بیا یې د خپل قدرت نښه وښودله او اسلام یې له نړېدو وژغوره چې نږدې و له منځه لاړ شي. پدې سره یې هغه ژمنه پوره کړه چې فرمایلي یې وو: وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَى لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُمْ مِنْ بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا (ژباړه: او خامخا به هغوی ته د هغه دین استقامت او اقتدار ورکړي چې ورته غوره کړی یې دی، او خامخا به د هغوی وېره په امن بدله کړي).

یعنې له وېرې وروسته به موږ بیا د هغوی پښې ټینګې کړو. همدا ډول د حضرت موسی (ع) په وخت کې وشول؛ کله چې حضرت موسی (ع) له مصر څخه کنعان ته په لاره کې، تر هغه وړاندې چې بني اسرائیل د وعدې سره سم ټاکلي منزل ته ورسوي، وفات شو. د هغه په مړینې سره

په بني اسرائیلو کې یو لوی ماتم جوړ شو؛ لکه څنګه چې په تورات کې لیکل شوي، بني اسرائیل د دغې ناڅاپي مړینې له صدمې او د حضرت موسی (ع) ناڅاپي بیلتون له امله تر څلوېښتو ورځو پورې ژړل . همدا ډول معامله له حضرت عیسی (ع) سره هم وشوه؛ د صلیب د پېښې پر مهال ټول حواریین خواره واره شول او یو پکې مرتد هم شو.

نو اې عزیزانو! څرنګه چې له پخوا راهیسې د الله تعالی سنت همدا دی چې هغه دوه قدرتونه ښکاره کوي، ترڅو د مخالفینو دوه درواغجنې خوښۍ تر پښو لاندې کړي؛ نو اوس دا ممکنه نه ده چې خدای تعالی خپل پخوانی سنت ترک کړي. له همدې امله، تاسو زما په هغو خبرو چې درته مې بیان کړې، مه خفه کېږئ او زړونه مو پریشان نشي؛ ځکه ستاسو لپاره د (خدای) د دویم قدرت لیدل اړین دي او د هغه راتګ ستاسو په ګټه دی، ځکه هغه تلپاتې دی چې لړۍ به یې تر قیامت پورې ونه شلېږي. تر هغه چې زه لاړ نشم، هغه دویم قدرت نشي راتلای؛ مګر کله چې زه لاړ شم، نو خدای به ستاسو لپاره هغه دویم قدرت را واستوي چې تل به ستاسو مل وي. لکه څنګه چې په 'براهین احمدیه' کې د خدای وعده ده؛ او دا وعده زما د ذات په اړه نه ده، بلکې ستاسو په اړه ده؛ لکه څنګه چې خدای فرمایي: 'زه به دغه ډلې (جماعت) ته چې ستا پیروان دي تر قیامت پورې به پر نورو غلبه ورکړم؛ نو دا اړینه ده چې پر تاسو زما د بیلتون ورځ راشي، ترڅو له هغې وروسته د هغې دایمي وعدې ورځ راشي. زموږ هغه خدای د وعدو رښتونی، وفادار او صادق خدای دی؛ هغه به هغه هر څه تاسو ته وښیي چې وعده یې کړې ده. که څه هم دا د نړۍ وروستۍ ورځې دي او د ډېرو بلاګانو د نازلېدو وخت دی، خو اړینه ده چې دا نړۍ تر هغه وخته قائمه پاتې شي، ترڅو هغه ټولې خبرې پوره نشي چې خدای یې وړاندوینه کړې ده. زه د خدای له لوري د یو قدرت په بڼه ښکاره شوم او زه د خدای یو مجسم قدرت یم؛ او له ما وروسته به ځینې نور وجودونه وي چې د (خدای) د دویم قدرت مظهر به وي. نو تاسو د خدای د 'دویم قدرت' (قدرتِ ثانی) په انتظار کې سره یو ځای شئ او دعاګانې کوئ. او پکار ده چې په هر هېواد کې د صالحانو ټولنه (جماعت) سره یو ځای شي او په دعاګانو بوخت شي، ترڅو دویم قدرت له اسمانه نازل شي او تاسو ته وښیي چې ستاسو خدای داسې یو

قادر خدای دی. خپله مړینه نږدې وګڼئ؛ تاسو نه پوهیږئ چې په کوم وخت کې به هغه ګړی را ورسیږي.

او پکار ده چې د جماعت هغه مشران چې پاک نفسونه لري، زما له مړینې وروسته زما په نوم له خلکو څخه بیعت واخلي. *خدای تعالی غواړي چې هغه ټول روحونه چې د ځمکې په بېلابېلو ابادیو کې مېشت دي، که په اروپا کې وي او که په اسیا کې، هغه ټول چې نېک فطرت لري د خدای د یووالي (توحید) لوري ته را کاږي او خپل بندګان پر یو واحد دین راټول کړي؛ همدا د خدای تعالی هغه موخه ده چې زه یې لپاره نړۍ ته رالیږل شوی یم. نو تاسو د دغه مقصد پیروي وکړئ، خو په نرمۍ، غوره اخلاقو او پر دعاګانو باندې په ټینګار کولو سره. او تر هغه چې کوم څوک له خدای څخه د 'روح القدس' په ترلاسه کولو سره (د مشر په توګه) را پورته نشي ، نو تاسو ټول زما څخه وروسته په شریکه او په ګډه کار وکړئ."
"او پکار ده چې تاسو هم د همدردۍ او د خپلو نفسونو د پاکوالي له لارې له 'روح القدس' څخه برخه واخلئ؛ ځکه چې له روح القدس پرته حقیقي تقویٰ نه شي ترلاسه کېدای.

*د داسې خلکو ټا کل(انتخاب) به د مومنانو د رایو په اتفاقِ سره وي. نو د هر هغه چا په اړه چې څلوېښت تنه مومنان اتفاق وکړي چې هغه د دې وړتیا لري چې زما په نوم له خلکو بیعت واخلي، نو هغه به د بیعت اخیستلو واک (مجاز) ولري؛ او پکار ده چې دی خپل ځان د نورو لپاره یوه بیلګه وګرځوي. خدای ماته خبر راکړی دی چې: زه به ستا د جماعت لپاره ستا له نسله (ذریت) څخه یو کس راپورته کړم او هغه ته به خپل قرب او وحی ځانګړی کړم؛ د هغه په وسیله به حق پرمختګ وکړي او ډېر خلک به رښتیا قبول کړي'. نو د هغو ورځو په انتظار اوسئ. او دا مو باید په یاد وي چې د هر چا پېژندنه په خپل وخت کې کېږي؛ ښایي تر وخت وړاندې هغه یو عادي انسان ښکاره شي او یا د ځینو غولوونکو خیالاتو له امله د نیوکې وړ وګرځي؛ لکه څنګه چې تر وخت وړاندې، یو بشپړ انسان هم په نس کې یوازې یوه نطفه یا علقه (د غوښې ټوټه) وي. (منه)

نفساني جذبات په بشپړ ډول پرېږدئ او د خدای د رضا لپاره داسې لاره غوره کړئ چې له هغې نه ډېره تنګه لاره بله هېڅ نه وي. د نړۍ پر خوندونو (لذتونو) مه غولېږئ، ځکه چې دا تاسو له خدایه جلا کوي؛ د

خدای لپاره د تریخوالي او سختۍ ژوند غوره کړئ. هغه درد چې خدای پرې راضي وي، تر هغه لذت غوره دی چې خدای پرې خفه کېږي؛ او هغه ماتې چې خدای پرې راضي وي، تر هغې فتحې غوره ده چې د الهي غضب لامل ګرځي. هغه مینه پرېږدئ چې (تاسو )د خدای غضب ته نږدې کوي. که تاسو په پاک زړه د هغه لوري ته راشئ، نو هغه به په هره لار کې به ستاسو مرسته وکړي او هېڅ دښمن به درته زیان ونه شي رسولای. تاسو هېڅکله د خدای رضا نه شئ ترلاسه کولای، ترڅو چې خپله خوښه، خپل خوندونه، خپل عزت، خپل مال او خپل ځان قربان نه کړئ او د هغه په لاره کې داسې تریخوالی ونه ګالئ چې د مړینې ننداره ستاسو مخې ته کېږدي. مګر که تاسو دا تریخوالی وګالئ، نو د یو ګران ماشوم په څېر به د خدای غېږې ته را شئ او د هغو رښتیني خلکو وارثان به وګرځول شئ چې تر تاسو وړاندې تېر شوي دي؛ د هر ډول نعمت دروازې به پر تاسو پرانیستل شي، خو ډېر لږ (خلک )داسې دي. خدای زه مخاطب کړم او ویې فرمایل چې: تقوا یو داسې ونه ده چې باید په زړه کې ولګول شي. هماغه اوبه چې تقوا پرې روزل کېږي، ټول باغ خړوبوي. تقوا داسې یوه ریښه ده چې که هغه نه وي نو نور هر څه بې ارزښته دي، او که هغه پاتې وي نو هر څه پاتې دي. انسان ته له هغه فضول کار څخه څه ګټه چې په ژبه خو د خدای غوښتنې ادعا کوي، خو د رښتینولۍ (صدق) قدم نه اخلي. وګورئ، زه تاسو ته رښتیا رښتیا وایم چې هغه څوک هلاکیدونکی دی چې په دین کې لږ څه د دنیا ګټه هم لټوي، او هغه نفس دوزخ ته ډېر نږدې دی چې ټولې موخې یې یوازې د خدای لپاره نه وي، بلکې ځینې یې د خدای او ځینې یې د دنیا لپاره وي. که تاسو په خپلو غوښتنو کې ان د یوې ذرې په کچه د دنیا ګټې شریکې کړئ، نو ستاسو ټول عبادتونه بې ګټې دي. په داسې حالت کې تاسو د خدای پیروي نه کوئ، بلکې د شیطان پیروي کوئ. په داسې وضعیت کې هیڅکله تمه مه کوئ چې خدای به ستاسو مرسته وکړي، بلکې تاسو په دې حال کې د ځمکې د چینجیو په څېر یاست او په لږ وخت کې به د هغو په څېر هلاک شئ، او خدای به له تاسو سره نه وي. بلکې ستاسو په هلاکت به خدای خوښ وي؛ خو که تاسو په حقیقت کې خپل نفس مړکړئ، نو بیا به په خدای کې راڅرګند شئ او خدای به له تاسو سره وي. هغه کور به برکتي وي چې تاسو په کې اوسېږئ او د هغه کور په

دېوالونو به د الهي رحمت باران ورېږي. او هغه ښار به هم برکتي وي چې داسې يو کس په کې اوسيږي. که ستاسو ژوند، مړينه، هر حرکت، نرمي او سختي يوازې د خدای لپاره شي او د هرې سختۍ او کړاو پر مهال د خدای امتحان ونه کړئ او ورسره اړيکه پرې نه کړئ، بلکې لا وړاندې قدم واخلئ، نو زه درته رښتيا وايم چې تاسو به د خدای يو ځانګړی قوم وګرځئ. تاسو هم زما په څېر انسانان ياست او زما خدای ستاسو هم خدای دی؛ نو خپلې پاکې وړتیاوې مه ضايع کوئ. که تاسو په بشپړه توګه د خدای لور ته متوجه شئ، نو وګورئ زه د خدای د غوښتنې سره سم درته وايم چې تاسو به د خدای يو غوره (برګزيده) قوم شئ. د خدای عظمت په خپلو زړونو کې کينوئ او د هغه د توحيد اقرار يوازې په ژبه مه کوئ، بلکې په عمل کې يې وښيئ، ترڅو خدای هم په عملي ډول خپله مهرباني او احسان پر تاسو څرګند کړي. له کينې او دښمنۍ څخه ډډه وکړئ او له خلکو سره په رښتينې خواخوږۍ چلند وکړئ. د نېکۍ هره لاره غوره کړئ، ځکه معلومه نه ده چې په کومه لاره به تاسو د (خدای په دربار کې )قبول شئ.

تاسو ته دې زيری وي چې (الهي) قرب ته د رسېدو ډګر خالي دی. هر يو قوم له دنيا سره مينه کوي او هغه څه چې خدای ورڅخه راضي کيږي، دنيا ورته هيڅ پاملرنه نلري. هغه خلک چې غواړي په پوره ځواک سره په دې دروازه ننوځي، هغوی ته موقع شته چې خپل استعدادونه (جوهر) وښيي او له خدای څخه ځانګړی انعام ترلاسه کړي. دا فکر مه کوئ چې خدای به تاسو ضايع کړي؛ تاسو د خدای د لاس هغه تخم ياست چې په ځمکه کې وکرل شو. خدای فرمايي: چې دا تخم به وده وکړي، لوييږي به او له هر لوري به يې څانګې راوځي او په يوه لويه ونه به بدل شي. نو مبارک دی هغه څوک چې د خدای پر خبره ايمان ولري او په دې لاره کې له راتلونکو ازمېښتونو (ابتلاګانو) څخه ونه وېرېږي؛ ځکه چې د ازمېښتونو راتګ هم اړين دی ترڅو خدای تاسو و ازمويي چې څوک د بيعت په دعوه کې رښتينی (صادق) او څوک درواغجن (کاذب) دی. هغه څوک چې په کوم ازمېښت کې وښوييږي، خدای ته به هيڅ زيان ونه رسوي، بلکې خپله بدبختي به يې تر جهنمه ورسوي او که هغه نه وای پيدا شوی، دا به ورته غوره وه. خو هغه ټول خلک چې تر پايه صبر وکړي، د مصيبتونو زلزلې پرې راشي، د پېښو طوفانونه پرې تېر شي،

قومونه پرې ملنډې او خنداګانې وکړي او نړۍ ورسره په ډېرې کرکې سره چلند وکړي؛ په پای کې به هغوی بریالي وي او د برکتونو دروازې به پرې پرانیستل شي. خدای زه مخاطب کړم او ویې وفرمایل چې خپلې ډلې (جماعت) ته خبر ورکړم: هغه خلک چې ایمان یې راوړی داسې ایمان چې د دنیا هیڅ ګډون په کې نه وي، له نفاق او بزدلۍ څخه پاک وي او د اطاعت له هیڅ درجې څخه بې برخې نه وي دغه ډول خلک د خدای خوښ شوي خلک دي. او خدای فرمايي چې يوازې همدا دي چې قدم یې د رښتینولۍ (صدق) قدم دی.

اې اورېدونکو! واورئ چې خدای له تاسو څخه څه غواړي؟ یوازې دا چې تاسو د هغه شئ نو په اسمان او ځمکه کې هیڅوک له هغه سره مه شریکوئ. زموږ خدای هغه خدای دی چې اوس هم ژوندی دی لکه څنګه چې پخوا ژوندی و؛ اوس هم خبرې کوي لکه څنګه چې یې پخوا کولې؛ او اوس هم اوري لکه څنګه چې یې پخوا اورېدل. دا یو نیمګړی (خام) خیال دی چې په دې زمانه کې چې هغه اوري خو ، خوخبرې نه کوي؛ بلکې هغه اوري هم او خبرې هم کوي . د هغه ټول صفتونه ازلي او ابدي دي، هیڅ صفت یې نه معطل شوی او نه به کله هم معطل شي. هغه هماغه واحد بېشریکه دی چې نه زوی لري او نه مېرمن. هغه هماغه بېمثاله دی چې هیڅ سیال نه لري او هیڅ فرد په کوم ځانګړي صفت کې د هغه په څېر نه دی. د هغه هیڅ جوړه نشته، د چا چې څوک هم په صفاتو کې شریک نه دي ،او د چا چې هیڅ قدرت لږ نه دی . هغه سره له دې چې لرې دی، نږدې دی؛ او سره له دې چې نږدې دی، لرې دی. هغه د تمثیل په بڼه د کشف خاوندانو ته ځان ښکاره کولی شي، خو نه جسم لري او نه بڼه. هغه تر هر څه پورته دی، خو داسې نشو ویلی چې تر هغه لاندې بل څوک هم شته. هغه پر عرش دی، خو داسې نشو ویلی چې پر ځمکه نشته. هغه د ټولو کمالي صفاتو مجموعه، د ټولو رښتینو ستاینو مظهر او د ټولو ښېګڼو سرچینه ده. هغه د ټولو ځواکونو راټولوونکی، د ټولو فیضونو پیل او د هر شي د ستنېدو ځای دی. هغه د هر ملک مالک دی، په هر کمال سمبال دی او له هر ډول عیب او کمزورۍ څخه پاک دی. هغه په دې امر کې ځانګړی دی چې د ځمکې او اسمان ټول اوسېدونکي یوازې د هغه عبادت وکړي. د هغه په وړاندې هیڅ کار ناشونی نه دی؛ ټول روحونه او د هغوی ځواکونه، او ټول ذرات

او د هغوی قوتونه هغه پیدا کړي دي. له هغه پرته هیڅ شی نه راڅرګندېږي. هغه خپل ځان د خپلو قدرتونو، ځواکونو او نښو له لارې پخپله څرګندوي او موږ یې یوازې د همدې لارې موندلی شو. هغه تل پر ربښتینو باندې خپل ځان څرګندوي او خپل قدرتونه ورته ښیي؛ له همدې هغه پېژندل کیږي او له همدې لارې د هغه د خوښې لاره تشخیص کیږي.

هغه له جسماني سترګو پرته ویني؛ له جسماني غوږونو پرته اوري؛ او له جسماني ژبې پرته خبرې کوي. همدارنګه، له نیستۍ څخه هستي رامنځته کول د هغه کار دی؛ لکه څنګه چې تاسو وینئ چې د خوب په لیدلو کې هغه له کومې مادې پرته یوه ټوله نړۍ پیدا کوي او هر یو فاني او له منځه تللی شی، موجود او ژوندی ښکاره کوي؛ نو د هغه ټول قدرتونه په همدې ډول دي. ناپوهه دی هغه څوک چې د هغه له قدرتونو څخه انکار کوي، او ړوند دی هغه څوک چې د هغه له ژورو طاقتونو څخه بېخبره دی. هغه هر څه کوي او هر څه کولی شي، پرته له هغو چارو چې د هغه له شان سره په ټکر کې وي او یا د هغه له وعدو سره خلاف وي. او هغه په خپل ذات، صفاتو، افعالو او قدرتونو کې یوازې (واحد) دی. هغه ته د رسېدو ټولې لارې بندې دي، پرته له هغې دروازې چې فرقان مجید پرانیستې ده. نورو ټولو پخوانیو نبوتونو او کتابونو ته په جلا توګه د پیروي اړتیا نه ده پاتې، ځکه چې محمدي نبوت پر هغو ټولو مشتمل او برلاسی دی. له دې لارې پرته نورې ټولې لارې بندې دي. ټول هغه حقیقتونه چې انسان تر خدای پورې رسوي، په همدې کې شتون لري؛ نه به له دې وروسته کوم نوی حقیقت راشي او نه هم له دې وړاندې کوم داسې حقیقت و چې په دې کې موجود نه وي. له همدې امله، پر دې نبوت باندې د ټولو نبوتونو پای (خاتمه) ده او باید هم داسې وای؛ ځکه هر هغه څه چې پیل لري، انجام هم لري. خو دا محمدي نبوت له خپل ذاتي فیض رسولو څخه عاجز نه دی، بلکې تر ټولو نبوتونو په کې زیات فیض شتون لري. د دې نبوت پیروي انسان په خورا اسانۍ سره خدای ته رسوي او د دې لارې په پیروۍ سره د خدای مینه او له هغه سره د مکالمې او مخاطبې هغه انعام ترلاسه کېدای شي چې تر پخوانیو انعامونو خورا لوړ دی. مګر د دې لارې کامل پیرو یوازې 'نبي' نشي

بلل کېدای، ځکه چې په دې کار کې د کامل او تام محمدي نبوت سپکاوی دی؛ هو، د 'امتي' او 'نبي' دواړه لفظونه په ټولیزه بڼه پر داسې کس صادق راتلای شي. ځکه چې په دې کې د کامل او تام محمدي نبوت سپکاوی نشته، بلکې د هغه نبوت ځلا له دې فیضان څخه نوره هم زیاته څرګندېږي.* او کله چې هغه مکالمه او مخاطبه د خپل کیفیت او کمیت له اړخه کمال درجې ته ورسیږي او په هغې کې هیڅ ډول کثافت او کمی پاتې نشي، او په ښکاره ډول پر غیبي چارو مشتمله وي،

*سره له دې، باید دا په ښه توګه په یاد ولرئ چې د حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم څخه وروسته د تشریعي نبوت (شریعت لرونکي نبوت) دروازه په بشپړه توګه تړل شوې (مسدوده) ده؛ او له قرآن مجید وروسته بل داسې هیڅ کتاب نشته چې نوي احکام وښيي، یا د قرآن شریف کوم حکم منسوخ کړي او یا یې پیروي معطل کړي، بلکې د قرآن کریم عمل تر قیامت پورې (جاري) دی. منه

نو همدا حالت په نورو ټکو کې د 'نبوت' په نوم یادېږي چې پرې د ټولو نبیانو اتفاق دی.

نو دا ناشوني وه چې هغه قوم چې په اړه یې وفرمایل شول: كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ «آل عمران ۱۱۱» (تاسو غوره امت یاست چې د خلکو لپاره را ایستل شوي یاست) او د کومو لپاره چې دا دعا وښودل شوه چې: اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيْمَ صِرَاطَ الَّذِيْنَ اَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ «الفاتحه ۶،۷» (موږ ته سمه لاره وښیه، د هغه چا لاره چې تا پرې انعام کړی دی)؛ د هغوی ټول افراد دې له دغه لوړ مقام څخه بې برخې پاتې شوي وای او هیڅ یو تن دې دا مرتبه ترلاسه نه وای کړې.په داسې حالت کې به نه یوازې دا نیمګړتیا وه چې محمدي امت به نیمګړی او ناتمام پاتې شوی و او ټول به د ړندو په څېر وو.

بلکې دا به د آنحضرت صلی الله علیه وسلم د فیضان پر ځواک هم یو داغ لګیدو او د هغوی صلی الله علیه وسلم قدسي قوت (پاک ځواک) نیمګړی ګڼل کېده؛ او ورسره جوخت، هغه دعا چې په پنځه وخته لمانځه کې یې لوستل ور زده کړل شوي وو، د هغې ښوونه هم بې ګټې ثابتېده."خو بل لور ته دا خرابي هم وه چې که چېرې دا کمال د امت کوم

فرد ته په مستقیم ډول، د محمدي نبوت د نور له پیروۍ پرته ترلاسه کېدای، نو د 'ختمِ نبوت' مانا به باطله شوې وه. نو له دغو دواړو خرابیو څخه د ساتلو لپاره، خدای تعالی د کاملې، تامې، پاکې او سپېڅلې مکالمې او مخاطبې (الهي خبرو) شرف هغو کسانو ته ور په برخه کړ چې د 'فنا في الرسول' په حالت کې تر ټولو لوړې درجې ته ورسېدل، داسې چې ترمنځ یې هیڅ حجاب پاتې نشو. په دوی کې د 'امتي' والي مفهوم او د پیروۍ مانا په خورا کامل او اکمل ډول ثابته شوه؛ په داسې بڼه چې د هغوی خپل وجود پاتې نشو، بلکې د هغوی د فنا کیدو په هنداره کې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم وجود منعکس شو، او له بلې خوا، په خورا بشپړ او اکمل ډول د نبیانو په څېر الهي مکالمه او مخاطبه ور په برخه شوه."

نو په دې ډول، ځینو کسانو سره له دې چې 'امتي' وو، د 'نبي' کیدو خطاب وموند؛ ځکه چې دا ډول نبوت له محمدي نبوت څخه جلا نه دی، بلکې که په ځیر ورته وکتل شي، دا پخپله هماغه محمدي نبوت دی چې په یوه نوې بڼه کې راڅرګند شوی دی. د هغې فقرې مانا هم همدا ده چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د مسیح موعود په اړه فرمایلي دي: « نبی الله و امامکم منکم ،نبی الله او ستاسو امام له ستاسو څخه دی»؛ یعنې هغه نبي هم دی او امتي هم، که نه نو پردي (غیر) ته په دې ځای کې د ګام اېښودو اجازه نشته. مبارک دی هغه څوک چې په دې ټکي پوه شي، ترڅو له هلاکت څخه وژغورل شي.

خدای پاک عیسیٰ علیه‌السلام ته وفات ورکړ، لکه څنګه چې د خدای تعالیٰ صاف او څرګنده ایت:

«فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِىْ كُنْتَ اَنْتَ الرَّقِيْبَ عَلَيْهِمْ» پر دې خبره شاهد دی؛ چې د اړوندو ایتونو سره یې مانا دا ده: خدای به په قیامت کې له عیسیٰ (ع) څخه وپوښتي چې ایا تا خپل امت ته دا ښوونه کړې وه چې ما او زما مور د خدای په توګه ومنئ؟ نو هغه به ځواب ورکړي چې تر څو زه په هغوی کې وم، پر هغوی شاهد او د هغوی ساتونکی وم، خو کله چې تا زه وفات کړم، نو بیا زه څه خبر وم چې هغوی زما څخه وروسته په کومه ګمراهۍ (ضلالت) اخته شول.

اوس که څوک وغواړي، د «فَلَمَّا تَوَفَّيْتَنِيْ» ایت مانا داسې وکړي چې:

«کله چې تا زه وفات کړم»؛ او که وغواړي خپله ناحقه ضد پرې نږدي او دا مانا وکړي چې: «کله چې تا زه له عنصري جسم سره اسمان ته پورته کړم». خو په هر صورت، له دې ایت څخه دا ثابتیږي چې حضرت عیسیٰ (ع) به بیا نړۍ ته نه راځي؛ ځکه که هغه له قیامت څخه وړاندې بیا نړۍ ته راغلی وی او صلیب یې مات کړی وی، نو په دې صورت کې دا ممکنه نه وه چې عیسیٰ (ع) چې د خدای نبي و د قیامت په ورځ د خدای تعالیٰ په وړاندې داسې ښکاره درواغ ووایي چې:

«زه هیڅ خبر نه یم چې زما څخه وروسته زما امت دا فاسده عقیده غوره کړه چې زه او زما مور یې خدایان وګرځول». ایا هغه څوک چې بیا نړۍ ته راشي او څلوېښت کاله په نړۍ کې پاتې شي او له عیسویانو سره جنګونه وکړي، د نبي په توګه داسې بد دروا‌غ ویلی شي چې: 'زه هیڅ خبر نه یم'؟ نو دا چې دا ایت حضرت عیسیٰ (ع) بېرته نړۍ ته له راتګ څخه منع کوي، که نه نو هغه به درواغجن ثابت شي. که چېرې هغه له خپل مادي جسم سره په اسمان کې وي او د دې ایت د صراحت له مخې تر قیامت پورې ځمکې ته راکوز نشي، نو ایا هغه به په اسمان کې مري او په اسمان کې به یې قبر وي؟ په داسې حال کې چې په اسمان کې مړه کېدل د «فِيْهَا تَمُوْتُوْنَ» (په همدې ځمکه کې به مړه کیږئ) له ایت سره په ټکر کې دي. نو له دې څخه خو همدا ثابتیږي چې هغه مادي جسم سره اسمان ته نه دی تللی، بلکې تر مړینې وروسته (روحاني) تللی دی. او په داسې وضعیت کې چې د الله کتاب په پوره صراحت سره دا پرېکړه کړې وي، نو د الله د کتاب مخالفت کول که ګناه نه وي، نو نور څه دي؟

که چېرې زه نه وی راغلی، نو یوازې اجتهادي تېروتنه د بښنې وړ وه؛ خو کله چې زه د خدای له لوري راغلم او د قرآن شریف صریح او رښتیني ماناوې روښانه شوې، نو بیا هم د تېروتنې نه پرېښودل د ایمانداری خوی نه دی. زما لپاره د خدای نښې په اسمان او ځمکه دواړو کې ښکاره شوې. د پېړۍ نږدې څلورمه برخه تېره شوه او په زرګونو نښې څرګندې شوې او د نړۍ له عمر څخه اوومه زریزه پیل شوه؛ نو بیا هم اوس د حق نه منل دا کوم ډول د زړه سختیا ده؟ وګورئ، زه په لوړ غږ وایم چې د خدای نښې لا پای ته نه دي رسېدلي. له هغه لومړنی

زلزلې وروسته چې د ۱۹۰۵ ز کال د اپریل په ۴مه نېټه پېښه شوه او له ډېر پخوا یې خبر ورکړل شوی و، بیا خدای ماته خبر راکړ چې د پسرلي په موسم کې به یوه بله سخته زلزله راشي. هغه به د پسرلي ورځې وي، خو معلومه نه ده چې د پسرلي پیل به وي کله چې په ونو کې پاڼې راوځي، او که منځنۍ یا وروستۍ ورځې به وي؛ لکه څنګه چې د الهي وحې الفاظ دا دي:

'بیا پسرلی راغی، د خدای خبره بیا پوره شوه'.

څرنګه چې لومړنۍ زلزله هم د پسرلي په ورځو کې وه، نو ځکه خدای خبر ورکړ چې دا دویمه زلزله به هم په پسرلي کې راشي. او څرنګه چې د جنورۍ په وروستیو کې په ځینو ونو کې پاڼې راوتل پیل کېږي، نو ځکه به له همدې میاشتې څخه د وېرې ورځې پیل شي او غالباً به د مۍ تر پایه پورې دوام وکړي. *

او خدای وفرمایل: «زَلْزَلَۃُ السَّاعَۃِ»؛ یعنې هغه زلزله به د قیامت یوه نمونه وي. او بیا یې وفرمایل: «لَکَ نُرِیُ اٰیٰتٍ وَنَھْدِمُ مَایَعْمُرُوْنَ»؛ یعنې ستا لپاره به موږ (خپلې) نښې وښیو او کومې ودانۍ چې دوی یې جوړوي، موږ به یې ونړوو." او بیا یې وفرمایل: زلزله راغله او په داسې شدت راغله چې ځمکه یې لاندې باندې کړه. یعنې یوه سخته زلزله به راشي او ځمکه، یا د ځمکې ځینې برخې به داسې نسکورې کړي لکه څنګه چې د لوط (ع) په زمانه کې وشول. او بیا یې وفرمایل: «اِنِّیْ مَعَ الْاَفْوَاجِ اٰتِیْکَ بَغْتَۃً»؛ یعنې زه به په پټه له پوځونو سره راشم، په هغه ورځ به هیڅوک خبر نه وي؛ لکه څنګه چې د لوط (ع) کلي چې تر څو نسکوره شوې نه وه، هیڅوک خبر نه وو او ټولو خوراک څښاک او عیش و عشرت کاوه، چې ناڅاپه ځمکه واوښته. نو خدای فرمایي چې دلته به هم داسې وشي، ځکه چې ګناه له حده تېره شوه، انسانان له اندازې زیات له دنیا سره مینه کوي او د خدای لارې ته د سپکاوي په نظر کتل کېږي. او بیا یې وفرمایل: د ژوندونو پای. او بیا یې زه مخاطب کړم وفرمایل:

*زه نه پوهېږم چې د پسرلي له ورځو څخه مراد همدا اوسنی پسرلی دی چې له دې ژمي وروسته راځي، او که د دې وړاندوینې څرګندېدل په کوم بل وخت پورې تړلي دي چې د

پسرلي موسم به وي؛ خو په هر صورت، د خدای تعالیٰ له کلام څخه دا معلومېږي چې هغه به د پسرلي ورځې وي، که هر پسرلی وي. مګر خدای به د داسې یو کس په څېر راشي چې د شپې لخوا په پټه (پوشیده) راځي؛ همدا خبره خدای ماته فرمایلې ده. منه

په دې اړه د خدای یوه وحې دا هم ده: 'زما نوم ستا په خاطر وځلېږ'. منه.

«قَالَ رَبُّکَ اِنَّہٗ نَازِلٌ مِّنَ السَّمَآءِ مَا یُرْضِیْکَ رَحْمَۃً مِّنَّا۔ وَ کَانَ اَمْرًا مَّقْضِیًّا»؛ یعنې ستا رب فرمایي چې له اسمان څخه به یو امر راکوز شي چې ته به پرې خوشاله شې، دا زموږ له لوري یو رحمت دی او دا یوه فیصله شوې خبره ده چې له پیله مقدره وه. او دا اړینه ده چې اسمان د دغه امر له نازلولو څخه تر هغه وخته ایسار پاتې شي، ترڅو چې دا وړاندوینه په قومونو کې خپره شي. څوک دی چې زموږ پر خبرو ایمان راوړي، پرته له هغه چا څوک چې بختور وي؟

یاد ولرئ چې دا اعلان د اندېښنې خپرولو لپاره نه، بلکې د راتلونکې اندېښنې د مخنیوي لپاره دی، ترڅو هیڅوک په بې خبرۍ کې هلاک نشي. هره چاره په نیت پورې تړلې ده، نو زموږ نیت د درد ورکولو نه، بلکې له درد څخه د ژغورلو دی. هغه کسان چې توبه وباسي، د خدای له عذابه به وژغورل شي؛ مګر هغه بدبخته چې توبه نه کوي، د ملنډو مجلسونه نه پرېږدي او له بدکارۍ او ګناه څخه لاس نه اخلي، د هغه د هلاکت ورځې نږدې دي، ځکه چې د هغه ګستاخي د خدای په اند د غضب وړ ده.

"دلته یوه بله خبره د یادولو وړ ده؛ لکه څنګه چې ما مخکې بیان کړي دي، چې خدای ماته زما د مړینې په اړه خبر راکړی دی او ماته یې په مخاطب کولو زما د ژوند په اړه وفرمایل چې ډېرې لږې ورځې پاتې دي. او ویې فرمایل چې د ټولو پېښو او د قدرت د عجایبو له ښودلو وروسته به ستاسو حادثه پېښه شي. دا دې خبرې ته اشاره ده چې زما له وفات څخه وړاندې به پر نړۍ ځینې حوادث راشي او د قدرت ځینې حیرانتیاوې (عجایب) به څرګند شي، ترڅو نړۍ یوه انقلاب ته چمتو شي او له دغه انقلاب وروسته به زما وفات وي. او ماته یو ځای وښودل شو چې دا به ستا د قبر ځای وي. ما یو فرښته ولیده چې ځمکه یې اندازه کوله، بیا یو ځای ته ورسېده او ماته یې وویل چې دا ستا د قبر ځای دی.

بیا ماته یو قبر وښودل شو چې له سپینو زرو څخه زیات ځلیده او تږوله خاوره یې له سپینو زرو وه؛ بیا ماته وویل شول چې دا ستا قبر دی. او یو بل ځای هم ماته وښودل شو چې نوم یې 'بهشتي مقبره' کېښودل شو او دا څرګنده شوه چې دا د هغې غوره شوې ډلې (جماعت) د خلکو قبرونه دي چې جنتي (بهشتي) دي. له هغه وخت راهیسې زه تل په دې فکر کې وم چې د جماعت لپاره د هدیرې په موخه یوه ټوټه ځمکه واخیستل شي، خو څرنګه چې په مناسب ځای کې ښې ځمکې په لوړه بیه وې، نو ځکه دا موخه تر ډېره وخته وځنډېده. اوس زما د ورور مولوي عبدالکریم صاحب له مړینې وروسته، کله چې زما د مړینې په اړه هم پرله پسې الهي وحې وشوې، نو ما مناسبه وګڼله چې د قبرستان انتظام ژر وشي. له همدې امله مې خپله شخصي ځمکه چې زموږ باغ ته څېرمه ده او بیه یې له زر روپیو کمه نه ده، د دې کار لپاره ځانګړې کړه؛ او زه دعا کوم چې خدای په کې برکت واچوي او همدا ځای 'بهشتي مقبره' وګرځوي، او دا د دغه جماعت د هغو پاک زړو خلکو ارامګاه وي چې په حقیقت کې یې دین ته پر دنیا لومړیتوب ورکړی، د نړۍ مینه یې پرېښې، د خدای شول، په ځان کې یې پاک بدلون راوستی او د رسول الله ﷺ د اصحابو په څېر یې د وفادارۍ او رښتینولۍ نمونه وښودله. آمین یا رب العالمین."

بیا دعا کوم چې اې زما قادر خدایه! دا ځمکه زما د هغې ډلې د پاک زړونو لرونکو لپاره  قبرونه وګرځوې چې په رښتینې توګه ستا شوي دي او د نړۍ د اغراضو ککړتیا یې په چارو کې نشته. آمین یا رب العالمین.

بیا د دریم ځل لپاره دعا کوم چې اې زما مقتدر او کریم ! اې غفور او رحیم خدایه! ته یوازې هغو خلکو ته په دې ځای کې د دفن کېدو ځای ورکړې چې ستا په دې استازي باندې رښتینی ایمان لري، په باطن کې یې هیڅ نفاق، نفساني غرض او بدګماني* نشته او د ایمان او اطاعت حق لکه څنګه چې ښایي، هماغسې پرځای کوي.

---

*بدګماني یو سخته بلا ده چې ایمان داسې په چټکۍ سوځوي لکه سور اور چې وچ واښه او خځلې ایرې کوي. څوک چې د خدای پر استازو (مرسلانو) بدګماني کوي، الله تعالی په خپله د

هغه دښمن ګرځي او د هغه پر وړاندې جګړې ته ودرېږي. "هغه (پاک خدای) د خپلو غوره (برګزیده) بندګانو لپاره دومره غیرت لري، چې په بل هېڅ چا کې یې بېلګه (نظیر) نه موندل کېږي. پر ما چې کله بېلابېل ډوله بریدونه وشول، نو د خدای هماغه غیرت زما لپاره په جوش کې راغی، لکه څنګه چې هغه وفرمایل: بېشکه زه له خپل رسول سره یم او ملامتګر ملامتوم. او تاته به داسې نعمتونه درکړم چې تلپاتې وي. ستا لپاره په اسمانونو کې لوړه درجه ده او د هغو په منځ کې هم چې بصیرت لري(حقایق ویني). موږ به ستا لپاره خپلې نښې وښیو او هغه څه به ونړوو چې دوی یې ابادوي. هغوی وویل آیا ته پکې هغه پیدا کوې چې فساد به پکې وکړي زه د هغه چا سپکوونکی یم چې ستا د سپکاوي اراده وکړي. مه وېرېږه، بېشکه چې زما په وړاندې استازي (مرسلان) نه وېرېږي. د الله امر راغی، نو په هغه کې بېړه مه کوئ؛ دا هغه زیری دی چې پیغمبرانو ترلاسه کړی و. اې زما احمد! ته زما مراد یې او ما سره یې. ته زما لپاره زما د توحید او یوازېتوب په څېر یې؛ ستا مقام زما په اند خلک نه شي درک کولی او ته زما په حضور کې مخور (وجیه) یې، ما ته د خپل ځان لپاره غوره کړی یې. کله چې ته په غوسه شې، زه په غوسه کېږم او کله چې ته مینه وکړې، زه مینه کوم. الله ته پر هر څه غوره کړی یې؛ ټولې ستاینې هغه الله لره دي چې ته یې د مریم زوی مسیح وګرځولې. له هغه (الله) څخه د هغه د کارونو پوښتنه نه کېږي، خو له دوی (خلکو) پوښتنه کېږي. دا یوه ترسره کېدونکې وعده وه؛ الله به دې د دښمنانو له شره وساتي. او هغه پر هر حمله کوونکي حمله کوي ،دا ځکه دوی سرغړونه وکړه او دوی د حد څخه تیرئ کونکي وو ،ایا الله خپل بنده لره کافي نه دی؟ الله لیکلي دي چې زه او زما استازي به خامخا برلاسي کېږو. او دوی به د مغلوبیدو وروسته برلاسي شي .بېشکه الله د هغو کسانو ملګری دی چې تقوا کوي او هغوی چې نېک چاري (محسنین) دي.» «بېشکه هغو کسانو چې ایمان راوړی دی، هغوی ته د خپل رب په وړاندې د رښتینې مقام او صدق زیری دی. (هغوی ته به ویل کېږي:) سلام (پر تاسو دې وي)، دا د مهربان رب له لوري په وینا (کلام) کې سلامتي ده. او اې مجرمانو! نن (د مومنانو له ډلې څخه) جلا شئ. (پای)

او (هغه کسان) چې ستا لپاره او ستا په لاره کې یې په خپلو زړونو کې ځانونه قربان کړي دي، له کومو چې ته راضي یې او ته یې پېژنې چې هغوی په بشپړ ډول ستا په مینه کې ډوب شوي دي؛ او ستا له استازي سره د وفادارۍ، پوره ادب او د زړه له کومې (انشراحی) ایمان له مخې، د مینې او سرښندنې تړون لري. آمین یا رب العالمین.

او څرنګه چې د دې قبرستان په اړه ماته ډېر ستر زیري راکړل شوي دي؛ نه یوازې دا چې الله تعالی د دې ځای په اړه فرمایلي چې دا "بهشتي مقبره" ده، بلکې دا یې هم فرمایلي دي چې: "أُنْزِلَ فِيهَا كُلُّ رَحْمَةٍ" یعنې په دې ځای کې هر ډول رحمت نازل شوی دی. هیڅ داسې رحمت نشته چې د دې قبرستان اوسېدونکي دې ترې برخمن نه وي. له همدې امله، الله تعالی زما زړه په خپله "خفي وحې" سره دې ته راوګرځاوه چې د دغه قبرستان لپاره داسې شرطونه وټاکل شي چې یوازې هغه کسان پکې

داخل شي چې د خپل صداقت او پوره ربنتینولی له مخې پر هغو شرایطو ولاړ وي. نو هغه درې (۳) شرطونه دي، چې ټول باید پرځای شي.

(۱) د دغه قبرستان اوسنۍ ځمکه ما له خپل لوري د وقف په توګه ورکړې ده، خو د دغې احاطې د بشپړولو لپاره به نوره ځمکه هم وپېرل شي چې بیه یې نږدې زر (۱۰۰۰) روپۍ اټکل شوې ده. همداراز د نوموړي ځای د ښکلا لپاره به ځینې ونې کېښودل شي او یو څاه به پکې وایستل شي. څرنګه چې د قبرستان په شمالي برخه کې چې د تګ راتګ لاره ده، ډېرې اوبه ولاړې وي، نو هلته به یو پل جوړ شي. د دغو بېلابېلو لګښتونو (مصارفو) لپاره دوه زره روپۍ پکار وي، چې په مجموعي ډول د دې ټولو چارو د سرته رسولو لپاره درې زره (۳۰۰۰) روپۍ لګښت راځي. نو لومړی شرط دا دی: هر هغه څوک چې غواړي په دې قبرستان کې خاورو ته وسپارل شي، باید د خپل مالي توان او حیثیت په پام کې نیولو سره د دغو لګښتونو لپاره خپله چنده اداکړي. دا چنده یوازې له همدغو کسانو غوښتل شوې، نه له نورو څخه. په اوس وخت کې باید دا پیسې زموږ د مکرم ورور مولوي نورالدین صاحب په لاس کې جمع شي؛ خو که الله تعالی وغواړي، نو دا لړۍ به زموږ تر مړینې وروسته هم دوام ومومي. په داسې حالت کې پکار ده چې یوه ټولنه (انجمن) جوړ شي، ترڅو دا ډول راټولېدونکي عایدات د اسلام د کلمې د لوړوالي او د توحید د خپرولو په لاره کې، په هر هغه ډول چې مناسب وي، په مصرف ورسوي.

(۲) دویم شرط دا دی: له ټول جماعت څخه به په دغه قبرستان کې یوازې هغه څوک ښخېږي چې دا وصیت وکړي چې د هغه له مړینې وروسته دې د هغه د ټول جایداد لسمه برخه د دغې لړۍ د لاربښوونو سره سم، د اسلام په خپرولو او د قرآن د حکمونو په تبلیغ کې مصرف شي.

او هر ربنتیني او کامل الایمانه شخص ته دا واک شته چې په خپل وصیت کې تر دې هم زیاته برخه ولیکي، خو تر دې (لسمې برخې) به کمه نه وي. دا مالي عایدات به یوې امانتدارې او پر دیني پوهه سمبالې ټولنې (انجمن) ته سپارل کېږي او هغوی به یې د خپلمنځي مشورې له لارې د

اسلام د پرمختګ، د قرآني علومو او دیني کتابونو د خپرولو او د دغې لړۍ د مذهبي مبلغانو لپاره، د پورته ذکر شویو لارښوونو پر بنسټ لګوي.

الله تعالی ژمنه کړې ده چې دغه لړۍ ته به پرمختګ ورکوي، نو هیله ده چې د اسلام د تبلیغ لپاره به ډېر مالونه راټول شي او هغه ټولې چارې چې د اسلام په ګټه او مصلحت کې دي چې اوس یې تفصیل له وخته مخکې دی، د همدغو مالونو له لارې به ترسره شي. کله چې هغه ډله چې د دې کار مسؤلیت پر غاړه لري وفات شي، نو د هغوی ځایناستي هم دا دنده لري چې دا ټول خدمتونه د احمدي لړۍ له لارښوونو سره سم پرځای کړي. په دغو مالونو کې به د هغو یتیمانو، مسکینانو او نویو مسلمانانو حق هم وي چې د ژوند پوره اسانتیاوې نه لري او په دغه لړۍ کې شامل دي. دا هم روا ده چې دغه مالونه د سوداګرۍ له لارې ډېر کړای شي. داسې مه انګیرئ چې دا یوازې له اټکله لیرې خبرې دي، بلکې دا د هغه قادر (خدای) اراده ده چې د ځمکې او اسمانونو پاچا دی.

زه پر دې خفه نه یم چې دا مالونه به څنګه را ټولېږي او یا به څنګه داسې یو جماعت پیدا کېږي چې د ایمانداری په جوش سره دا میړنی کار سرته ورسوي؛ بلکې زما اندېښنه دا ده چې زموږ له زمانې وروسته، هغه کسان چې دا مالونه ورسپارل کېږي، د مالونو ډېربښت ته په کتلو سره ونه ښوېږي او له نړۍ (مادیاتو) سره مینه پیل نه کړي.

نو زه دعا کوم چې تل د دغې لړۍ لپاره داسې امین کسان پیدا شي چې یوازې د خدای لپاره کار وکړي؛ هو، دا روا ده چې د هغو کسانو لپاره چې د ژوند ګزاره یې نه کېږي، له دغه مال څخه د مرستې په توګه خرڅ ورکړل شي.

(۳)دریېم شرط دا دی: هغه څوک چې په دغه قبرستان کې خاورو ته سپارل کېږي، باید متقي (پرهېزګاره) وي، له ناروا او حرامو چارو ډډه وکړي، په هیڅ ډول شرک او بدعت کې ککړ نه وي او یو رښتینی او سوچه مسلمان وي.

(۴) هر هغه نېک (صالح) انسان چې هیڅ ډول مال او جایداد نه لري او نه شي کولی مالي چوپړ ترسره کړي؛ که دا ثابته شي چې هغه خپل ژوند د دین لپاره وقف کړی و او یو صالح انسان و، نو هغه هم په دغه قبرستان کې ښخیدلی شي.

لارښوونه

(۱) هر یو ښاغلی چې غواړي د پورته ذکر شویو شرایطو سره سم وصیت وکړي، نو پر وصیت به یې د هغه له مړینې وروسته عمل وشي؛ خو دا اړینه ده چې وصیت په لیکلي ډول د دغې لړۍ اړوندو امینانو ته چې دا خدمت ورسپارل شوی، تسلیم کړي او همدارنګه یې چاپ او خپور کړي. ځکه چې د مړینې په وخت کې ډېری وخت د وصیتونو لیکل ستونزمن کیږي .او دا چې د اسماني نښو او بلاګانو (عذابونو)ورځې نږدې دي، نو ځکه د الله تعالی په وړاندې د هغه چا مقام خورا لوړ دی چې د امن په حالت کې وصیت لیکي. د داسې وصیت په لیکلو کې، چې مال یې د (دین) تلپاتې مرستندوی ګرځي، لیکونکي ته به یې ابدي ثواب ورسیږي او دا کار به د "جاري صدقې" خیرات جاریه په حکم کې وي.

(۲) هر یو ښاغلی چې په نورو سیمو کې وي او له قادیان څخه لیرې د هیواد په کومه بله برخه کې مېشت وي، خو پر هغو شرایطو ولاړ وي چې مخکې ذکر شول؛ نو د هغوی وارثانو لره ښایي چې د نوموړي له مړینې وروسته د هغه جسد (میت) په یو تابوت (صندوق) کې کیږدي او قادیان ته یې راولیږدوي. او که چیرې د دغه قبرستان له بشپړېدو وړاندې یعنې د پل او نورو ودانیو له جوړېدو مخکې کوم داسې شخص وفات شي چې د شرایطو له مخې باید په دې قبرستان کې خاورو ته وسپارل شي، نو پکار ده چې د هغه جسد په یو تابوت کې د امانت په توګه کېښودل شي او په خپله سیمه کې دفن شي. کله چې د قبرستان اړوند ټول لازم چمتووالی ونیول شو، بیا دې مړي قادیان ته راوړل شي، خو کوم کسان چې له تابوت پرته دفن شوي وي، هغوی له قبرونو ایستل مناسب نه دي.
*

څرګنده دې وي چې د الله تعالی اراده دا ده چې داسې کامل الایمانه کسان په یو ځای کې دفن شي، ترڅو راتلونکي نسلونه هغوی په یو ځای کې ووینې او خپل ایمان پرې تازه کړي؛ او ترڅو د هغوی کارنامې، یعنې هغه دیني خدمتونه چې د خدای لپاره یې کړي دي، تل تر تله پر قوم ښکاره وي. په پای کې دعا کوو چې الله تعالی په دې کار کې له هر مخلص سره مرسته وکړي، په هغوی کې ایماني جوش پیدا کړي او د هغوی ژوند په نېکۍ پای ته ورسوي. آمین.

---

* حاشیه: هیڅ یو ناپوهه انسان باید دغه قبرستان او دغه نظام په بدعت کې شامل ونه ګڼي؛ ځکه چې دا انتظام د الهي وحې مطابق دی او د انسان اراده پکې دخیله نه ده. او هیڅوک دې دا فکر نه کوي چې یوازې په دغه قبرستان کې په داخلېدو سره به یو څوک څنګه بهشتي شي؟ ځکه چې (د وحې) مطلب دا نه دی چې دا ځمکه به څوک بهشتي کړي، بلکې د الله تعالی د کلام مانا دا ده چې یوازې بهشتي انسانان به په دې ځای کې دفن کېږي. (پای)

مناسبه ده هر هغه څوک چې زموږ له جماعت څخه دا لیکنه تر لاسه کوي، هغه دې په خپلو دوستانو کې خپره کړي او تر هغه ځایه چې امکان لري اشاعت دې یې وکړي او د خپلو راتلونکو نسلونو لپاره دې خوندي وساتي. همداراز مخالفینو ته دې هم په ډېر مهذب ډول له دې خبر ورکړي، د هر بدګویه (کنځل مار) پر بدګوۍ دې صبر وکړي او په دعاګانو کې دې بوخت پاتې شي.

وَاٰخِرُ دَعْوٰنَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ۔

لیکوال:

خاکسار، الله الصمد ته اړمن غلام احمد[ص] الله دې ورته عافیت ورکړي او تائید دې وکړي

۲۰ ډسمبر ۱۹۰۵ عیسوي کال

الا ای که هشیاری وپاک زاد - ای هغه چې هوښیار یې او پاک پیدا شوی یی
پیٔ حرص دنیا مده دین بباد - د دنیا حرص پسې دین له لاسه مه ورکوه
بدین دار فانی دل خود مبند - پدې فاني دنیا پسې زړه مه تړه
که دارد نهان راحتش صد گزند - هوساینه یې پټ سل نقصانونه لري
اگر باز باشد ترا گوش هوش - که د هوش غوږونه دې خلاص وي
ز گورت ندائی درآید بگوش - نو د قبر نه به دې غږ تر غوږو شي
که ای طعمه من پس از چند روز- چې ای زما خوراکه څو ورځې وروسته
پیٔ فکر دنیا دون کم بسوز-په فاني دنیا پسې لږ وسوځه
هر آن که به دنیا یی دون مبتلا است-هر هغه چې په فاني دنیا کې بوخت دی
گرفتار رنج و عذاب وعنا است-په رنځ و عذاب او تکلیف ګرفتار دی
برست آنکه بر موت دارد نگاه - بریالی شو هغه چې په مرګ نظر لري
بریده ز دنیا دو دیده براه - د دنیا څخه جلا او دوه سترګې په لار
سفر کرده پیش از سفر سوی یار - د سفرڅخه وړاندې خپل یار ته ورغلی
کشیده ز دنیا همه رخت وبار - د دنیا څخه یې خپله بارو بستره وړې
پی دار عقبی کمر بسته چُست - د عقبیٰ کور پسې یې کلکه ملا تړلې
رها کرده سامان این خانه سُست - دې کور هر څه یې خوشې پریښي
چو کار حیات است کار نهان - ځکه چې د ژوند کار پټ دی
همان به که دل بگسلی زین مکان - دا ښه ده چې له دنیا نه زړه پرې کړې
جهنم کزو داد فرقان خبر - جهنم کوم چې قرآن خبر ورکړی
همین حرص دنیاست جان پدر - همدا د دنیا حرص دی ای ګرانه زویه
چو آخر ز دنیا سفر کردن است - چې آخر هم له دنیا څخه سفر کول دی

چو روزی از ین ره گذر کردن است - کله چې یوه ورځ پدې لاره تیریدل دي
چرا عاقلی دل به بندد در ان - نو ولې یو عقلمند ور پسې زړه وتړي
که نا گه وزد بر گل او خزان - چې نا څاپه د ده په ګل به د خزان باد ولګیږي
بدین قحبه بستن دل خود خطا ست - پدې قبیح شي پسې زړه تړل تیر وتنه ده
که این دشمن دین و صدق و صفا ست - چې د دین صدق او صفا دښمنه ده
چه حاصل از ین دلستان دو رنگ - د دې دوه رنګه محبوب نه څه حاصل
که گاهی بصلحت کشد گه بجنگ - چې کله دې سولې وباسي کله جنګ
چرا دل نه بندی بدان دلستان - ولې په هغه محبوب پورې زړه و نه تړې
که مهرش رهاند ز بند گران - چې محبت یې د درانده بار څخه ژغوري
برو فکر انجام کن ای غوی - لاړ شه د خپل انجام فکر وکړه ای نادانه
ز سعدی شنو گر ز من نشنوی - سعدي څخه یې واوره که زما نه یې نه اورې
عروسی بود نوبت ماتمت – ستا ماتم وار به ستا د واده وي(خوښي به وي)
اگر بر نکوئی بود خاتمت - که چیرې د خاتمه په نیکی وي

# د الوصیت رسالې اړوند ضمیمه *

د رساله الوصیة په اړه څو اړین امرونه د خپرولو وړ دي چې په لاندې ډول لیکل کیږي:

(۱) لومړی دا چې تر هغه وخته پورې چې د قبرستان د ګټو د سمبالښت ټولنه (انجمن کارپرداز مصالح قبرستان) دا امر خپور نه کړي چې قبرستان د اړینو لوازمو له مخې له هر پلوه چمتو شوی دی، تر هغه وخته به دا جواز نه لري چې کوم مړی (میت) چا چې د رساله الوصیة د شرطونو پابندي کړې وي، په قبرستان کې د ښخولو لپاره راوړل شي. د پل او داسې نورو اړینو لوازمو مخکې له مخکې چمتو کېدل به لازمي وي او تر هغه وخته به مړی په یو صندوق کې د امانت په توګه په کوم بل قبرستان کې ایښودل کیږي.

(۲) هر هغه صاحب چې د رساله الوصیة د پابندۍ اقرار کوي، اړینه به وي چې هغه دا ډول اقرار لږ تر لږه د دوو شاهدانو د ثبت شوې شاهدۍ سره یوځای، د خپلو هوش او حواس د ټینګښت په زمانه کې انجمن (ټولنې) ته وسپاري او په وضاحت سره ولیکي چې دوی د خپلې ټولې منقولې او غیر منقولې شتمنۍ لسمه برخه د احمدیه لړۍ د موخو د خپرولو لپاره د وصیت یا وقف په توګه ورکوي. او اړینه به وي چې دوی دا (موضوع) لږ تر لږه په دوو ورځپاڼو کې خپره کړي.

---

* ریویو آف ریلیجینز اردو جنوري ۱۹۰۶ د ۳۶ مې پاڼې نه تر ۳۹ پاڼې پورې ( خپروونکی )

(۳) د انجمن (ټولنې) دا دنده ده چې د قانوني او شرعي پلوه د وصیت شوي مضمون په اړه خپله بشپړه ډاډګېرنه (تسلي) وکړي او وصیت کوونکي ته یو سند (سرټیفیکیټ) چې د دوی په لاسلیک او مهر وي، ورکړي. او کله چې د پورتنیو ذکر شویو قواعدو له مخې کوم مړی دې قبرستان ته راوړل شي، نو اړینه به وي چې هغه سند انجمن ته وښودل

شي او د انجمن په لاربښوونه او د ځای په نښه کولو سره مړی په هغه ځای کې ښخ کړای شي چې انجمن ورته ټاکلی دی.

(۴) په دې قبرستان کې، پرته له کومې ځانګړې بڼې چې انجمن یې تجویز کړي، نابالغ ماشومان به نه ښخیږي، ځکه چې هغوی بهشتي دي؛ او نه به په دې قبرستان کې د دغه مړي بل کوم نږدې کس (عزیز) ښخیږي، تر هغه چې هغه په خپله د رساله الوصية ټول شرطونه پوره نه کړي.

(۵) هر هغه مړی چې د قادیان په ځمکه کې وفات شوی نه وي، د هغوی راوړل پرته له صندوقه قادیان ته ناجائز دي؛ او همدارنګه اړینه به وي چې لږ تر لږه یو میاشت مخکې خبر ورکړي، ترڅو که چېرې انجمن ته د قبرستان په اړه کوم ناڅاپي خنډونه پیښ شوي وي، هغه لرې کړي او اجازه ورکړي.

(۶) که چېرې کوم صاحب، خدای مه کړه، د طاعون له ناروغۍ وفات شي، چا چې د رساله الوصية ټول شرطونه پوره کړي وي، د هغوی په اړه دا اړین حکم دی چې هغوی دې تر ۲ کلونو پورې په صندوق کې ایښودل شوي وي او په کوم جلا ځای کې دې د امانت په توګه ښخ کړای شي؛ او له ۲ کلونو وروسته دې په داسې موسم کې راوړل شي چې د وفات کېدو په ځای او قادیان کې طاعون نه وي.

(۷) یاد دې وي چې یوازې دا به بسنه ونه کړي چې د منقولې او غیر منقولې شتمنۍ لسمه برخه ورکړل شي، بلکې اړینه به وي چې داسې وصیت کوونکی تر هغه ځایه چې ورته ممکن وي، د اسلام د حکمونو پابند وي او د تقوی او پاکوالي په چارو کې هڅه کوونکی وي؛ او داسې مسلمان وي چې خدای یو ګڼي او د هغه پر رسول ریښتینی ایمان لرونکی وي او همدارنګه د بندګانو د حقونو (حقوق العباد) غصب کوونکی نه وي.

(۸) که چېرې کوم صاحب د شتمنۍ د لسمې برخې وصیت وکړي او په ناڅاپي ډول د هغوی مړینه داسې وي چې د بېلګې په توګه په کوم سیند

کې د ډوبېدو له امله انتقال وکړي یا په کوم بل هیواد کې وفات شي چې له هغه ځایه د مړي (میت) راوړل ستونزمن وي، نو د هغوی وصیت به پر ځای پاتې وي او د خدای تعالی په وړاندې به داسې وي لکه دوی چې په همدې قبرستان کې ښخ شوي وي؛ او دا به جواز ولري چې د هغوی په یاد کې په همدې قبرستان کې پر یوه خښته یا تیږه یوه کتبه ولیکل شي او نصب شي او پېښې پرې ولیکل شي.

(۹) انجمن (ټولنه) چې دا ډول پیسې یې په لاس کې وي، دا واک به نه لري چې د احمدیه لړۍ له موخو پرته یې بل ځای مصرف کړي. او په دغو موخو کې به تر ټولو لومړیتوب د اسلام خپرول وي؛ او دا به جواز ولري چې انجمن د نظر په اتفاق سره هغه پیسې د سوداګرۍ له لارې زیاتې کړي.

(۱۰) د انجمن ټول غړي به داسې کسان وي چې په احمدیه لړۍ کې شامل وي، پاک نفسه او امانتدار وي. او که په راتلونکي کې د کوم کس په اړه دا احساس شي چې هغه پاک نفسه نه دی، یا دا چې امانتدار نه دی، یا دا چې هغه یو چلباز دی او په ځان کې د دنیا ککړتیا لري، نو د انجمن دنده به وي چې پرته له ځنډه دغه ډول کس له خپلې ټولنې وباسي او پر ځای یې بل څوک وټاکي.

(۱۱) که چېرې د وصیت شوي مال په اړه کومه شخړه (جګړه) پېښه شي، نو د هغې شخړې په تعقیبولو کې چې کوم لګښتونه راځي، هغه به ټول له وصیت شویو مالونو څخه ورکول کېږي.

(۱۲) که چېرې کوم کس وصیت وکړي او بیا د خپل ایمان د کمزورۍ له امله له خپل وصیت څخه منکر شي او یا له دغې لړۍ (سلسله) څخه مخ واړوي، نو که څه هم انجمن په قانوني ډول د هغه پر مال قبضه کړې وي، بیا به هم دا جواز نه لري چې هغه مال په خپله قبضه کې وساتي؛ بلکې هغه ټول مال باید بېرته ورکړل شي، ځکه چې خدای د چا مال ته اړمن (محتاج) نه دی او د خدای په وړاندې دا ډول مال ناخوښه (مکروه) او د ردولو وړ دی.

(۱۳) له هغه ځایه چې انجمن د خدای له لوري د تاکل شوي خلیفه ځای ناستی دی، نو ځکه باید دا انجمن په بشپړه توګه د دنیا پرستۍ له رنګونو څخه پاک وي او ټولې معاملې یې باید په خورا شفافیت او انصاف ولاړې وي.

(۱۴) دا به جواز ولري چې د دغې انجمن (ټولنې) د ملاتړ او نصرت لپاره په لرو پرتو هیوادونو کې نورې انجمنې وي چې د دوی د لاربښوونې تابع وي. او دا به جواز ولري چې که چېرې هغوی په داسې هیواد کې وي چې له هغه ځایه د مړي راوړل ستونزمن وي، نو په هماغه ځای کې مړی ښخ کړي؛ او د ثواب څخه د برخې اخیستلو په موخه دې داسې کس له مړینې مخکې د خپل مال د لسمې برخې وصیت وکړي او پر هغه وصیت شوي مال قبضه کول به د هغې انجمن کار وي چې په هغه هیواد کې ده. او غوره به دا وي چې هغه پیسې د هماغه هیواد په دیني موخو مصرف شي؛ او دا به جواز ولري چې د کومې اړتیا په لیدلو سره هغه پیسې دغې انجمن ته ورکړل شي چې مرکز (هیډ کوارټر) یې قادیان دی.

(۱۵) دا به اړینه وي چې د دغې انجمن (ټولنې) ځای تل قادیان وي، ځکه چې خدای دغه ځای ته برکت ورکړی دی؛ او دا به جواز ولري چې هغوی په راتلونکي کې د اړتیاوو په لیدلو سره د دغه کار لپاره کوم مناسب (کافي) مکان چمتو کړي.

(۱۶) په انجمن کې باید تل لږ تر لږه دوه غړي داسې وي چې د قرآن او حدیث له علم څخه په ښه توګه خبر وي، په عربي علم کې یې تحصیل کړی وي او د احمدیه لړۍ کتابونه یې په یاد وي.

(۱۷) که خدای مه کړه، کوم داسې کس چې د رساله الوصية له مخې وصیت کوي، په جذام (خوره ) اخته وي چې د بدن حالت یې د دې وړ نه وي چې دغه هدیرې ته راوړل شي، نو داسې کس د ظاهري مصلحتونو له مخې مناسب نه دی چې دغه قبرستان ته راوړل شي؛ خو

که هغه پر خپل وصیت ټینګ (قائم) پاتې وي، نو هغه ته به هماغه درجه ورکول کیږي کومه چې په قبرستان کې ښخېدونکي ته ورکول کیږي.

(۱۸) که چېرې کوم څوک هېڅ ډول منقوله یا غیر منقوله شتمني ونه لري او سره له دې دا ثابته وي چې هغه یو نېک (صالح) درویش، پرهیزګار او سوچه مومن دی او په هغه کې د نفاق، دنیا پرستۍ یا د اطاعت د کمښت هېڅ برخه نه وي، نو هغه هم زما په اجازه یا له ما وروسته د انجمن (ټولنې) په اتفاقِ رای سره په دغه مقبره کې ښخېدلای شي.

(۱۹) که چېرې کوم کس د خدای تعالی د ځانګړې وحې له لارې رد کړل شي، نو که څه هم هغه وصیت شوی مال وړاندې کړي، بیا به هم په دغه قبرستان کې داخل نه (ښخ نه) کړای شي.

(۲۰) زما په اړه او زما د اهل او عیال په اړه خدای (تعالی) استثنا ایښې ده. پاتې نور هر یو، که نارینه وي او که ښځینه، پر هغوی د دغو شرطونو پابندي لازمي ده او شکایت کوونکی به منافق وي.

دا هغه اړین (ضروري) شرطونه دي چې پورته ولیکل شول. په راتلونکي کې به په دغه بهشتي مقبره کې هغه څوک ښخ کړای شي چې دا شرطونه پوره کړي. ممکن ده چې ځینې کسان، چې پر هغوی د بدګومانۍ ماده غلبه لري، موږ په دې کړنه کې د اعتراض نښه وګرځوي او دا انتظام پر نفساني موخو ولاړ وګڼي او یا یې بدعت وګرځوي؛ خو یاد دې وي چې دا د خدای تعالی کارونه دي، هغه چې څه وغواړي، هغه کوي. بې له شکه هغه اراده کړې ده چې په دې انتظام سره د منافق او مومن ترمنځ توپیر وکړي او موږ په خپله احساس کوو چې کوم کسان پر دې الهي انتظام له خبرېدو سره سم، پرته له ځنډه په دې فکر کې کیږي چې د خپلې ټولې شتمنۍ لسمه برخه د خدای په لاره کې ورکړي، بلکې له دې هم زیات خپله جذبه (جوش) ښکاره کوي، هغوی د خپلې پر خپله ایماندارۍ مهر لګوي. الله تعالی فرمایي: اَلٓمّٓ۔ اَحَسِبَ النَّاسُ اَنْ یُّتْرَکُوْا اَنْ یَّقُوْلُوْا اٰمَنَّا وَہُمْ لَا یُفْتَنُوْنَ. ( العنکبوت ) (ژباړه): آیا خلک دا ګمان کوي چې زه به یوازې په همدومره (خبره) راضي شم (چې هغوی وایي

ایمان مو راوړی او لا یې ازموینه (امتحان) ونه شي؟؛ او دا ازموینه خو هیڅ شی هم نه ده. د صحابه وو (رضي الله عنهم) ازموینه د ځانونو په غوښتلو سره وشوه او هغوی خپل سرونه د خدای په لاره کې ورکړل؛ نو دا ډول ګمان چې ولې هر چا ته عامه اجازه نه ورکول کیږي چې په دې قبرستان کې ښخ شي، تر کومه حده له حقیقته لرې دی. که چیرې همدا روا وی، نو خدای تعالی ولې په هره زمانه کې د ازموینې بنسټ کیښود؟ هغه په هره زمانه کې غوښتي دي چې د ناپاکه (خبیث) او پاک (طیب) ترمنځ توپیر ښکاره کړي، نو ځکه یې اوس هم همداسې وکړل. خدای تعالی د حضور صلی الله علیه وسلم په زمانه کې ځینې سپکې سپکې (خفیفې) ازموینې هم ایښې وې، لکه څنګه چې دا دستور هم و چې هیڅ څوک به له حضورصلی الله علیه وسلم څخه تر هغه وخته پورې مشوره نه اخلي ترڅو چې لومړی نذرانه وراندې نکړې. نو په دې کې هم د منافقانو لپاره ازموینه (ابتلا) وه. موږ په خپله احساس کوو چې د اوسنۍ زمانې له دې ازموینې څخه به هم هغه لوړ پوړي مخلصین، چې په حقیقت کې یې دین پر دنیا مقدم کړی دی، له نورو خلکو څخه بېل او ممتاز شي. او دا به ثابته شي چې هغوی د بیعت اقرار په رښتینې توګه ثابت کړ او خپله رښتینولي یې ښکاره کړه. بې له شکه دا انتظام به پر منافقانو ډېر درونډ (ګران) تېر شي او په دې سره به د هغوی پرده چاک شي. او له مړینې وروسته، که هغوی نارینه وي او که ښځینه، په دې قبرستان کې به هیڅکله ښخ نه شي. (فِیْ قُلُوْبِهِمْ مَّرَضٌ فَزَادَهُمُ اللہُ مَرَضًا) (د هغوی په زړونو کې ناروغي وه، نو الله تعالی هغوی ته ناروغي ورزیاته کړه). مګر په دې کار کې مخکښ کسان به په رښتینې خلکو کې وشمارل شي او تر ابده به د خدای رحمتونه پر هغوی وي.

په پای کې دا هم باید یاد وساتل شي چې د بلاګانو (آفتونو) ورځې نږدې دي او یوه سخته زلزله چې ځمکه به لاندې باندې کړي، نږدې ده؛ نو هغه کسان چې د عذاب له لیدلو مخکې خپل تارک الدنیا توب (له دنیا څخه لاس اخیستل) ثابت کړي او همدارنګه دا هم ثابته کړي چې هغوی په کومه بڼه زما د حکم پیروي وکړه، د خدای پر وړاندې حقیقي مومنان هغوی دي او د هغه په دفتر کې به «سابقین اولین» (لومړي مخکښان) ولیکل شي. او زه رښتیا رښتیا وایم چې هغه زمانه نږدې ده چې یو

منافق، چا چې له دنیا سره د مینې له امله دا حکم ځنډولی دی، هغه به د عذاب په وخت کې په اسویلي (آه) سره وایي چې کاش ما خپله ټوله شتمني، که منقوله وه او که غیر منقوله، د خدای په لاره کې ورکړې وی او له دې عذابه ژغورل شوی وی. یاد وساتئ! چې د دې عذاب له لیدلو وروسته به ایمان بې ګټې وي او صدقه او خیرات یوازې عبث دي. وګورئ! زه تاسو ته د ډېر نږدې عذاب خبر درکوم، د ځان لپاره هغه توښه ژر تر ژره راټوله کړئ چې په کار مو راشي. زه دا نه غواړم چې له تاسو څخه کوم مال واخلم او په خپله قبضه کې یې کړم، بلکې تاسو به د دین د خپرولو لپاره یو انجمن (ټولنې) ته خپل مال وسپارئ او بهشتي ژوند به ومومئ. ډېر داسې کسان شته چې هغوی له نړۍ سره د مینې له امله زما حکم ردکړي، مګر ډېر ژر به له نړۍ څخه جلا کړای شي، بیا به په وروستي وخت کې وایي: (هٰذَا مَا وَعدَ الرَّحمٰنُ وَ صَدَقَ المُرسَلُونَ) «دا هغه څه دي چې رحمان (خدای) یې ژمنه کړې وه او رسولانو رښتیا ویلي وو». او سلام دې وي پر هغه چا چې د هدایت پیروي وکړي.

الراقم خاکسار

میرزا غلام احمد(ص) د خدای تعالی له طرفه مسیح موعود ۶جنوري ۱۹۰۶

بسم الله الرحمن الرحيم

نحمده و نصلی علی رسوله الکریم

د قادیان د صدر انجمن احمدیه د معتمدینو د مجلس د لومړنۍ غونډې راپور (روئیداد) نېټه: د ۱۹۰۶ ز کال د جنورۍ ۲۹مه
په غونډه کې ګډونوال : حضرت مولوي نورالدین صاحب (رئیس/پریزیډنټ). خان صاحب محمد علي خان صاحب. صاحبزاده بشیرالدین محمود احمد صاحب. مولوي سید محمد احسن صاحب. خواجه کمال الدین صاحب. ډاکټر سید محمد حسین صاحب (د مجلس سکرتر).

له هغه ځایه چې د ځینو اړینو لارښوونو او منظوریو ورکول خورا اړین وو او له قادیان څخه بهر مېشتو ملګرو ته د خبر ورکولو لپاره پوره وخت نه و؛ نو ځکه د قواعدو له منظورۍ وروسته، د حضرت امام (علیه السلام) په اجازه دغه غونډه ترسره شوه.

د لاندې ذکر شویو معاملو په اړه پرېکړه وشوه:

(۱) پرېکړه وشوه چې د وصیت وړاندیز شوې طرحه (مسوده) ............ منظوره کړای شي. (۲) پرېکړه وشوه چې د وصیت د طرحې دې دا مهال اته سوه کاپي ګانې چاپ شي او همدارنګه دې په «الحکم» او «بدر» (ورځپاڼو) کې هم چاپ شي. (۳) پرېکړه وشوه چې وصیت کوونکو ته دې د عملي کولو لپاره لاندې لارښوونې ولېږل شي او دا لارښوونې دې د وصیت د فورم په لاندې برخه کې چاپ شي.

الف: که اړتیا وي، نو وصیت کوونکي دې د وصیت طرحه ............ وغواړي او د هغې نقل دې له سره پر ساده کاغذ وکړي؛ او چېرته چې ځای پرېښودل شوی، هلته دې د شرایطو له مخې خانې پخپله ډکې کړي. د وصیت لپاره دې کلک کاغذ وکارول شي.

ب: تر هغه ځایه چې ممکن وي، وصیت دې ثبت (رجسټري) شي او پر وصیت نامې دې تر خپله وسه د شاهدانو په توګه د وصیت کوونکي د

وارثانو یا شریکانو لاسلیکونه وي او ورسره دې د ښار یا کلي دوه معزز شاهدان هم وي.

ج: وصیت کوونکی او همدارنګه شاهدان، که سواد ولري او که نه، پر خپلو لاسلیکونو یا مهرونو سربېره دې د غټې ګوتې نښه خامخا ولګوي. او څوک چې لوستي دي، هغوی دې لاسلیک هم وکړي. نارینه دې د چپ لاس او ښځینه دې د ښي لاس د غټې ګوتې نښه ولګوي.

د- که چېرې وصیت کوونکی لیک لوست کولی شي، نو خپله وصیت نامه دې په خپل لاس ولیکي.

هـ- پر وصیت (پاڼه) باندې د سټامپ (قانوني ټکټ) ضرورت نشته.

و- که د وصیت کوونکي کوم ځانګړي حالات وي او په هغه کې قانوني مشورې ته اړتیا ولري، نو هغه دې .... ته چې د انجمن قانوني سلاکار دی، مکتوب ولیکي او پوښتنه دې وکړي.

)۴(په پنجاب کې چې کوم د ځمکو مالکان دي او د هغوی په لاره کې د وصیت کولو لپاره کومې ستونزې (دقتونه) وي، نو د هغوی لپاره مناسبه ده چې د خپلې شتمنۍ هغومره برخه چې وصیت یې کول غواړي، د وصیت پر ځای یې په خپل ژوند کې «هبه» (وبښي) کړي. او پر هبه نامې دې د خپلو هغو وارثانو (که وي) لاسلیکونه واخلي چې له هغې څخه د هغوی رضایت څرګند شي؛ او د هبه نامې ثبتول اړین دي. همدارنګه دې د ښښل شوې شتمنۍ د ملکیت لیږد د قادیان د صدر انجمن احمدیه د معتمدینو د مجلس په نوم کړي، خو په داسې حالت کې به هغوی مجبور وي چې د خپلې نوې پیدا شوې شتمنۍ په اړه وخت په وخت همداسې کوي.

(۵) که چېرې په پورته ذکر شوي ۴ نمبر پرېکړه لیک کې د «هبې» په برخه کې هم کومه ستونزه وي، نو د شتمنۍ هغومره برخه چې وصیت یا هبه کول یې غواړي، د هغې بازاري بیه دې وټاکي او یا دې هغه وپلوري او ټاکل شوې بیه یا ترلاسه شوې پیسې دې د قبرستان د چارو

سمبالوونکې مجلس (مجلس کارپرداز مصالح قبرستان) ته وسپاري؛ مګر په داسې حالت کې چې کله هغوی نوې شتمني ترلاسه کړي، نو د هغې په اړه به هم وخت په وخت همداسې کوي.

(۶) هغه ملګري (احباب) چې کومه شتمني نه لري، خو د عاید کومه لاره لري، هغوی دې د خپل عاید لږ تر لږه لسمه برخه (10/1) میاشتنۍ انجمن ته وسپاري. دا د دوی په واک کې ده چې کومې چندې هغوی دا مهال د عالي لړۍ (سلسله عالیه) د مرستې لپاره ورکوي، هغه په دغه لسمه برخه کې شاملې پرېږدي او که یې بېلې کړي. که چېرې هغوی غواړي خپلې اوسنۍ چندې په دغه لسمه برخه کې شاملې کړي، نو په کومه بڼه چې یې اوس لېږي، همداسې دې لېږد ته دوام ورکړي. البته، د هغو چندو له منفي کولو وروسته چې کومه پاتې رقم وي، هغه دې د قبرستان د چارو سمبالوونکې مجلس (مجلس کارپرداز مصالح قبرستان) مالي سکرتر په نوم ولېږي. پاتې نور مکتوبونه دې د دغې مجلس له سکرتر سره وکړي؛ خو هغوی ته به دا وصیت کول لازمي وي چې د هغوی له مړینې وروسته به د هغوی د پاتې شتمنۍ لږ تر لږه د لسمې برخې مالک انجمن وي.

یادونه (نوټ):
(۱) کوم کسان چې د قبرستان د چارو سمبالوونکې مجلس په اړه د وصیت یا هبې په تړاو نور قانوني معلومات ترلاسه کول غواړي، هغوی کولی شي د وصیت یا هبې له لیکلو وړاندې خط و کتابت وکړي.

(۲) په ځانګړو حالاتو کې د معتمدینو له مجلس سره د خط و کتابت له لارې پرېکړه کېدای شي.

(۷) تولې هغه پیسې چې د قبرستان په اړه وي او یا په هغو پورته ذکر شویو بڼو کې چې د «الوصیت» د خبرتیا لاندې دي ولیږل شي، هغه باید یوازې په دغه پته راشي: "فنانشل سیکرټري مجلس کارپرداز مصالح قبرستان"؛ او د بل کوم شخص په نوم یا بلې کومې پتې باندې باید ونه لیږل شي.

خاکسار محمد علي (سکرتر) ۲۹ جنوري ۱۹۰۶ ز کال

نورالدین ۱ جولای ۱۹۰۶ ز کال

میرزا غلام احمد